# Your DSHS Cash or Food Benefits
# (ستاسو د DSHS نغدو پیسو یا د خواړو ګټې)

| د مراجع/پیرودونکي نوم (د کورنی مشر) |
|---|
| د مراجع/پیرودونکي ID نمبر |

| د DSHS نغدو پیسو مرستې<br>TANF، د کډوالو نغدي پیسې، د ABD نغدي پیسې، انحراف | د DSHS خواړو ګټې |
|---|---|

## د DSHS نغدو پیسو مرستې

☐ **موخه**

DSHS هغو ټیټ عاید لرونکو اوسیدونکو ته نغدو پیسو مرستې چمتو/وړاندې کوي څوک چې د عامه مرستې پروګرامونو لپاره وړ دي.

دا ګټې د ژوند د اساسي لګښتونو په تادیه کولو کې مرسته کوي (RCW 74.04.770).

د TANF نغدو پیسو مرستې باید بوازې ستاسو په پاملرنې کې د ماشومانو د ګټې لپاره وکارول شي. مونږ دې ثبوت ته اړتیا لرلی شو چې تاسو د ماشومانو اړتیاو لپاره د TANF مرستې کاروئ (RCW 74.12.260).

☐ **مناسب کارول**

تاسو ممکن خپله نغدي مرسته د ژوند لګښتونو لپاره کارولی شئ لکه:

- سرپناه/پناه ځای
- د تیلو/سونګ مواد
- خواړه
- ترانسپورت
- کالي/جامې
- د کور سامانه
- شخصي حفظ الصحه
- د کار لګښتونه

☐ **غیرقانوني کارول**

د RCW 74.08.580 لاندې، دا قانوني نه ده چې Electronic Benefit Transfer (د بریښنایی ګټو لیږد، EBT) کارتونه یا د EBT کارتونو څخه نغدي پیسې وکاروئ د:

- جوارۍ/قمار لپاره. په جوارۍ/قمار کې د لاترۍ ټکټونه، د پل ټیبونه، پنچ بورډونه، بنګو، د اسونو ریس/منډا، د کیسینو لوبې، او د RCW 67.16، 9.46، او 67.70 کې موندل شوي د چانس هر ډول لوبه شامله ده.
- د ټاټو، د بدن سورې کولو، یا د بدن هنر په دوکانونو کې خدمتونه واخلي.
- سګرټ یا تمباکو اخیستلو/پیرودلو لپاره.
- الکولي توکي اخیستلو/پیرودلو لپاره.
- په لاندې ځایونو کې توکي یا خدمتونه اخیستلو/پیرودلو لپاره:
  - ټاورنز (د شرابو خرڅولو او څښلو ځای).
  - د بیر یا شرابو دوکانونه پرته لدې چې د SNAP یا WIC پرچون پلورونکي په توګه اجازه ورکړل شوې وي.
  - د شپې کلبونه.
  - د ضمانت بانډ آژانسې.
  - د جوارۍ کولو تاسیسات.
  - د لویانو/بالغانو تفریحي ځایونه د شهواني ننداړو سره.
  - هر هغه ځای چیرې چې د 18 کلونو څخه کم عمر لرونکي کس ته اجازه نه ورکول کیږي
    - د مثال په توګه، د چرسو پرچون پلورونکي چیرې چې د چرسو او/یا د چرسو پر بنسټ محصولات پلورل کیږي.

## د DSHS خواړو ګټې

☐ **موخه**

د DSHS food assistance programs (د خواړو مرستې پروګرامونو) کې شامل دي:

- اساسي خواړه.
- Food Assistance Program for legal immigrants (د قانوني کډوالو لپاره د خواړو د مرستې پروګرام، FAP).
- Washington Combined Application Project (د واشنګټن ګډ غوښتنلیک پروژه، WASHCAP).
- Transitional Food Assistance (د خواړو انتقالي مرسته، TFA).

دا پروګرامونه د ټیټ عاید لرونکو خلکو لپاره electronic benefits transfer (د بریښنایی ګټو لیږد، EBT) کارتونو سره د خواړو پیرودلو کې مرسته چمتو/وړاندې کوي.

☐ **مناسب کارول**

تاسو، او ستاسو کورنی/خیلخانه د USDA، Food and Nutrition Service (د خواړو او تغذیې خدمتونو، FNS) لخوا اجازه ورکړل شوي پرچون پلورونکي څخه خواړه اخیستلو لپاره ممکن ستاسو د خواړو ګټې کارولی شئ.

تاسو ممکن خپلې ګټې د لاندې شیانو د اخیستلو لپاره کارولی شئ:

- ډوډۍ/ډبل ډوډۍ او حبوبات.
- میوې او سبزیجات.
- پنیر، شیدې، او د لبنیاتو محصولات.
- غوښې، کب، چرګان او هګۍ.
- ډیرې خواړه پرته له تیار شوي ګرمو خواړو څخه.
- تخمونه او نباتات/بوټي چې خواړه تولیدوي.

☐ **غیرقانوني کارول**

دا غیرقانوني ده چې:

- د خواړو مرستې د کورنی د وړ غړو لپاره د خواړو د اخیستلو پرته په بل څه کې وکاروئ.
- خپل EBT کارت وپلورئ، یا یې د پلورلو/خرڅولو هڅه وکړئ.
- خپلې ګټې، یا ستاسو د EBT کارت سره اخیستل شوي خواړه، د ارزښت وړ شی سره تبادله کړئ (قاچاق).
  د غیرقانوني قاچاق مثالونو کې د نغدو پیسو، مخدره توکو، یا وسلو په بدل کې د خواړو مرستې تبادله کول شامل دي.
- خپلې ګټې هغه چا ته ورکړئ څوک چې ستاسو په کورنی/خیلخانه کې نه وي.
- د غیر خوراکي توکو پیرودلو لپاره د خواړو ګټې وکاروئ. په مثالونه کې یې سګرټ، تمباکو، بیر، شراب، مشروب (د شرابو یو ډول)، د کور اکمالات، صابون، د کاغذ محصولات، ویټامینونه، درمل، یا د کورنی د څاروېو خواړه شامل دي.
- د کریډیټ حسابونو د تادیې لپاره خپلې د خواړو مرستې وکاروئ.



14520

Barcode label

| د DSHS خواړو ګټې | د DSHS نغدو پیسو مرستې<br>TANF، د کډوالو نغدي پیسي، ABD ،PWA نغدي پيسي، انحراف |
|---|---|
| ☐ **د غیرقانوني کاروني لپاره جریمه**<br>که چیرې تاسو په قصدي ډول د خپلو خوارو ګټو څخه ناوړه ګټه پورته کوئ، تاسو ممکن:<br>• اړ کیدی شئ چې د هر ډول قاچاق شویو ګټو بیرته تادیه وکړئ.<br>• نا اهله کیدی شئ او خپلو ګټو له لاسه ورکولی شئ:<br>○ لږترلږه د یو کال لپاره.<br>○ تر ټول عمر پورې.<br>○ نااهله کیدی شئ حتی که چیرې تاسو بل ایالت ته لاړ شئ.<br>• جریمې سره مخ کیدی شئ.<br>• د قانوني ګام پورته کولو/ اقدام سره مخ کیدی شئ، په شمول د جرمي تعقیب.<br>DSHS به د خوارو د ګټو د قاچاق د تعقیب لپاره د ایالتي، محلي او فدرالي چارواکو سره همکاري وکړي. | ☐ **د غیرقانوني کاروني لپاره جریمه**<br>که چیرې تاسو خپل EBT کارت یا د خپل EBT کارت څخه نغدي پیسې په غیرقانوني یا نامناسب ډول وکاروئ، مونږ ممکن:<br>• ستاسو د نغدو پیسو مرستې اداره کولو لپاره یو محافظتي د پیسو ترلاسه کونکی وټاکو.<br>• دې ثبوت ته اړتیا ولرو چې تاسو خپله مرسته ستاسو د پاملرنې لاندې ماشومانو لپاره کاروئ.<br>• ستاسو نغدو پیسو مرستې ختمې کړو.<br>• قانوني ګام پورته کړو، په شمول د جرمي تعقیب.<br><br>☐ **د EBT د ویستلو لپاره Automated Teller machine (د اتومات ټیلر ماشین، ATM) فیسونه**<br>کله چې تاسو د یو ATM څخه د نغدو پیسو ایستلو لپاره خپل EBT کارت کاروئ:<br>• د ATM مالک یا هغه بانک چې ماشین چلوي کیدای شي د سرچارج/اضافي فیس چارج کړي.<br>• ځانګه د ATM اضافي فیسونه نه ورکوي یا بیرته نه ورکوي.<br>• تاسو کیدای شي د ځینو پلورنځیو څخه پرته له فیس څخه پیسې بیرته ترلاسه کړئ. |

د لاندې لاسلیک کولو سره، زه موافق یم چې د DSHS نغدو پیسو او خوارو ګټو مناسب او قانوني کارول تشریح شوي دي. زه د ګټو په سمه توګه کارول او د غیرقانوني کاروني لپاره په جریمې پوهیږم. زه پوهیږم چې که چیرې زه دا فورمه لاسلیک نه کړم نو د DSHS ګټو لپاره زما وړتیا نه اغیزمنه کیږي. هرڅوک چې د دې فورمې لاسلیک کې پاتې راشي بیا هم د ګټو غیرقانوني کاروني لپاره د پروګرام یا جرمي جریمې تابع دی.

زه پوهیږم چې زما د EBT کارت DSHS ته زما د معاملو (بانکي راکړه ورکړه) تاریخچه وړاندې/چمتو کوي، پشمول د هغه ځای چیرې چې زه خپل کارت کاروم. زه پوهیږم چې DSHS به دا معلومات، او زما د بدیل کارتونو غوښتنو تاریخچه، د نغدو پیسو مرستو یا د خوارو ګټو د ناوړه ګټې اخیستنې د پلټنې لپاره وکاروي.

| د غوښتونکي لاسلیک | نیټه |
|---|---|
| | |

☐ د لاسلیک کولو څخه انکار وکړ؛ د DSHS کارمندانو ابتدایي ___________